مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

شماره: ۷۹ (از ۲۱ الی ۲۸ سرطان ۱۳۹۳ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

---

## په دې ګڼه کې لاندې مطلبونه لولئ:


- مقدمه ........ ۳


## از میانجیگری جان کری تا شایعهٔ تغییر نظام!


- مداخلهٔ خارجی‌ها در انتخابات چالش بزرگ برای افغانستان ........ ۴
- میانجیگری جان کری و تلاش‌های تغییر نظام ........ ۵
- مرحلهٔ جنجالی سهیم کردن نامزد بازنده در قدرت ........ ٦




ACKU

## سعودي-ایران-ترکیه؛ په منځني ختیځ کې د سړې جګړې لوبغاړي


- په منځني ختیځ کې د رواني سړې جګړې شالید ........................................................ ۸
- سوریه او عراق له سړې جګړې تر ګرمې جګړې! ........................................................ ۹
- د مصر کودتاچي مشر د ملک عبدالله نوی ملګری ........................................................ ۱۰
- د ترکیې او سعودي تر منځ په سني نړۍ کې د مشرتابه مقابله ........................................ ۱۰
- پایله: ........................................................................................................ ۱۱








# مقدمه

په دې ګڼه کې د ولسمشریزو ټاکنو له دویم پړاو وروسته، د ټاکنو د برخلیک په هکله د بهرنیانو ورځ تر بلې زیاتېدونکي رول، د جان کیري منځګړتوب او ترې وروسته د نظام د بدلون په اړه خپرو شوو آوازو او دغه راز په منځني ختیځ کې روانې سرې جګړې په تړاو، د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز، د اوونۍ تحلیل د بورډ شننې لولئ.

* د افغانستان د ولسمشریزو ټاکنو له دویم پړاو وروسته راپورته شوې لانجې د هواري لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزیر جان کیري کابل ته راغی او د دواړو نوماندانو تر منځ یې د ټولو رایو د بیا شمېرلو پرېکړه وکړه، چې پایلې به یې هم دواړه نوماندان مني او په پایله کې به د ملي وحدت حکومت جوړوي. د جان کیري له منځګړتوب وروسته د نظام د بدلون پر سر د هوکړې او ایتلافي حکومت د جوړولو آوازې خپرې شوې. داسې برېښي، چې په شوې پرېکړه کې یوازې د ټولو رایو د شمېرلو خبره نه ده، بلکې د پردې ترشا د واک پر سر د نوماندانو تر منځ معامله شوې دې.

* دغه راز د سیمې په کچه په منځني ختیځ کې وروستیو پېښو او بدلونونو هم د نړیوالو پام ځان ته واړولی دی. په دې سیمه کې د مصر روان کړکېچ او د سوریې او عراق جګړې ډېرې وغځېدې، چې لامل یې په منځني ختیځ کې روانه سره جګړه بلل کېږي او له امله یې د سیمې هېوادونه په منځني ختیځ کې ژورو بدلونونو ته سترګې په لار دي. همدا موضوعات د ځینې نورو موضوعاتو ترڅنګ، د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز د اوونۍ تحلیل د بورډ له خوا څېړل شوي دي:

ACKU

# از میانجیگری جان کری تا شایعهٔ تغییر نظام!



پس از اعلام نتائج ابتدایی دور دوم انتخابات ریاست جمهوری افغانستان، نقش خارجی‌ها در مورد سرنوشت انتخابات به گونهٔ تدریجی بیشتر شده و بالآخره جان کری  وزیر خارجهٔ امریکا در سفری به کابل، نزاع انتخاباتی را میان هر دو نامزد فیصله نمود. پس از میانجیگری جان کری  در موجی از شایعات، شایعاتی نیز پخش گردید که گویا در پشت پرده، بر سر تغییر نظام و تشکیل یک حکومت ائتلافی میان نامزدان، توافق صورت گرفته است که این موضوع واکنش‌های گونه‌گونی را نیز در پی داشت.

اینکه هدف اصلی این شایعه‌ها چه بوده؟ و اگر توافق بر سر تغییر نظام حقیقت داشته باشد، نتائج آن چگونه خواهد بود؟ همچنان تأثیر و نتائج مداخلهٔ خارجی‌ها به ویژه امریکا در پروسهٔ انتخابات، موضوعاتی هستند که در کنار سایر موضوعات در اینجا مورد بحث قرار گرفته است.

## مداخلهٔ خارجی‌ها در انتخابات چالش بزرگ برای افغانستان

جان کری  وزیر خارجهٔ امریکا کسی است که با میانجیگری خود، بگومگوی انتخاباتی میان کرزی و داکتر عبدالله را در سال ۲۰۰۹ میلادی نیز حل و فصل نمود. داکتر عبدالله این بار نیز توقع میانجیگری جان کری  را داشت و بر پیشنهادها و میانجیگری جهت‌های افغانی، اکتفا نمی‌کرد. به نظر می‌رسد که یک روز پس از اعلام نتائج ابتدائی تهدید ایجاد حکومت موازی نیز، از ترس عملی نشدن تعهداتی بود که در سال ۲۰۰۹ در بارهٔ انتخابات کنونی، به داکتر عبدالله داده شده بود.

ACKU

رفع اختلاف و کشمکش میان نامزدان ریاست جمهوری با وساطت جان کری  تعجب‌آور بود؛ اما پس از آن برخی از افراد و سیاسیون اظهاراتی داشتند و گزارش‌هایی به نشر رسیدند که تشویش‌ها و واکنش‌های تازه‌ای را در پی داشت.

ظاهرا میان هردو نامزد بالای تفتیش تمام آراء، قبول کردن نتائج تفتیش و در نتیجه تشکیل حکومت وحدت ملی توافق صورت گرفته است. اما با در نظرداشت اینکه پس از دور دوم انتخابات یکی از نامزدان که چانس پیروزی خود را نمی‌دید وبه همین دلیل هیچ نوع فیصلۀ تخنیکی وپیشنهادی را نمی‌پذیرفت وبعد از برآورده شدن یک شرط، شرط دیگر را مطرح می‌کرد؛ به نظر می‌رسد که تفتیش همه آراء اصلِ موضوع نیست، بلکه در پشت پرده بر سر قدرت معامله صورت گرفته است.

امریکا و جهت‌های خارجی، نزاع انتخاباتی را طوری مدیریت کردند تا نقش خارجی‌ها در این پروسه اساسی باشد که سخن زدن از ایجاد حکومت موازی نیز برخی از مداخلات امریکا بود؛ وگرنه ایجاد اغتشاش و بی‌نظمی در شرایط کنونی افغانستان، هرگز به نفع امریکا نیست.

امریکا از طریق مدیریت مدبرانۀ انتخابات، این هدف را مطابق توقع خود بدست آورد که برای پنج سال دیگر نیز حکومتی در افغانستان تشکیل شود که تحت فشارِ منت و احسان‌مندی امریکا و جامعۀ جهانی باشد.

پس میانجیگری و مداخلۀ وزیر خارجۀ امریکا، نشر گزارش‌های مبنی بر شایعۀ کودتای احتمالی پیش از سفر جان کری نیز برای توجیه مداخلۀ شرم‌آور امریکا در پروسۀ انتخابات افغانستان و نقش مؤثر آن در این پروسه می‌باشد.

هرچند نقش مؤثر امریکا در انتخابات افغانستان، تلاشی برای انزوای حامد کرزی نیز پنداشته می‌شود؛ چون کرزی هنوز هم مخالف تغییر نظام در افغانستان، پیمان امنیتی با امریکا و در کل مخالف نقش عام و تام امریکا در روند سیاسی افغانستان می‌باشد و از مداخلۀ آنان مانده به نظر می‌رسد.

از سوی دیگر از سخنان رئیس جمهور کرزی به خوبی درک می‌شود که میانجیگری امریکا در کشمکش انتخاباتی، خواست افغانستان نبوده و امریکا بر اساس پلان و نقشۀ خود، جان کری  را برای وساطت میان نامزدان به کابل فرستاده است.

## میانجیگری جان کری  و تلاش‌های تغییر نظام

بعضی از رسانه‌های غربی گزارش‌های را در بارۀ توافق نامزدان بر سر تغییر نظام در افغانستان به نشر سپردند. این قضیه‌ی است که داکتر عبدالله در صورت پیروزی در انتخابات، قصد انجام آنرا داشت. هرچند بر اساس این گزارش‌ها این

طرح در ابتدائی‌ترین مراحل آن قرار دارد، اما به گونه عمومی هردو نامزد انتخابات قبول دارند که برای وحدت ملی در افغانستان، باید به شکل تدریجی چوکی صدارت یا نخست وزیری بوجود بیاید.

امریکا تقریبا یک دهه قبل از روی کار آمدن نظام ریاستی در افغانستان حمایت نمود، اما حالا معلوم می‌شود که در سال‌های اخیر بر اساس دلایل مختلف برای تغییر نظام تلاش کرده است و از نظام ریاستی در افغانستان راضی به نظر نمی‌رسد. دست‌های که در دور دوم انتخابات برای بدنام کردن این پروسه گماریده شدند، یکی از هدف‌های احتمالی آنها هم زمینه‌سازی برای پیشنهاد طرح‌های جدید سیاسی بود.

اگر توافق تغییر نظام و دادن چوکی نخست وزیری به نامزد بازنده، در میانجیگری اخیر جان کری جدی هم نباشد، زمانیکه دوکتور اشرف غنی احمدزی در آغاز، از میان قوم تاجیک معاون انتخاب نکرد و بعدا وعدۀ منصب نخست وزیری را به احمد ضیاء مسعود داد؛ از همۀ اینها معلوم می‌شود که از قبل برای تغییر نظام برنامه‌های وجود داشته است.

با آنکه تیم انتخاباتی اشرف غنی احمدزی که احتمال برنده شدن او بیشتر است، این شایعات و توافق بر سر تغییر نظام را رد کرده است و رئیس جمهور کرزی نیز در سخنان اخیر خود نظام پارلمانی را به ضرر افغانستان دانسته است، اما به نظر می‌رسد که نشر گزارش‌های رسانه‌های غربی که به کاخ سفید هم نزدیک پنداشته می‌شوند، در بارۀ تغییر نظام در افغانستان برای آماده سازی ذهنیت‌ها می‌باشند، هرچند اعضای تیم داکتر عبدالله عبدالله که بازندۀ احتمالی انتخابات می‌باشد، این شائعات را برای تثبیت جایگاه و سهم خود در حکومت آینده نشر می‌کنند.

اینکه تغییر نظام به تعدیل قانون اساسی ضرورت دارد؛ معلوم می‌شود که در این باره نیز ترتیبات ذهنیت‌سازی چیده شده‌اند. به گونۀ که در بارۀ چوکی تعهد شده به احمدضیاء مسعود به نام ریاست اجرایوی، گفته شده است که این سمت پس از دو یا سه سال، در پی تعدیل قانون اساسی به چوکی نخست وزیری تبدیل می‌شود.

## مرحلۀ جنجالی سهیم کردن نامزد بازنده در قدرت

از خوشی تیم بازندۀ احتمالی انتخابات پس از میانجیگری جان کری، معلوم می شود که بالای قدرت معامله صورت گرفته است و در نتیجۀ بدنام کردن انتخابات و مشکلات فراوان دیگر، تیم برندۀ احتمالی نیز مجبور به قبول کردن معامله بالای قدرت به عنوان گزینۀ اخیر شده است تا بدین ترتیب راه برای تشکیل یک حکومت ضعیف هموار شود.

هرچند میانجیگری خارجی‌ها آخرین راه حل دانسته می‌شود و حامد کرزی که با مداخلۀ خارجی‌ها شدیدا مخالف است، نیز پیشنهاد یوناما برای حل این مشکل را قبول نمود و سپس میانجیگری جان کری را هم قبول کرد، اما طوری به نظر می‌رسد که چالش انتخابات با این میانجیگری، به مرحلۀ جدیدی داخل شده است.

در ارتباط به تقسیم قدرت زیر نام حکومت وحدت ملی چند نقطه قابل دقت است؛ اول اینکه اگر همه آراء دوباره شماریده می‌شود، ونتیجه آنرا هم هردو نامزد قبول می‌کنند، پس فرد برنده رئیس جمهور مشروع می‌باشد و باید بر اساس خط مشی خود حکومت خود را تشکیل دهد. پیش از پیش سهیم کردن نامزد بازنده از روی سهم و معامله، پس چه معنا دارد؟

اگر از همین حالا روی پست‌های حکومت توافق صورت گرفته باشد، پس زیر نام‌های مختلف با آرای مردم بازی می شود. هرچند این نکته را نیز باید فراموش نکنیم که تشکیل حکومت تنها از تیم برنده و از صحنه راندن تیم مقابل، باعث زیانمند شدن و ناقص شدن حکومت خواهد شد و حکومت باید از نظر ترکیب ملی ناقص نباشد، اما تشکیل حکومت از روی سهم و بر اساس معامله‌ها، توطئهٔ مهلکی بر ضد مردم افغانستان دانسته می‌توانیم.

ACKU

# سعودي-ایران-ترکیه؛ په منځني ختیځ کې د سړې جګړې لوبغاړي




منځنی ختیځ له لومړۍ نړیوالې جګړې وروسته، بیا د سړې جګړې (۱۹۴۵-۱۹۹۱) پر مهال او بیا له هغه را وروسته د ډېرو ستونزو محور دی؛ خو په وروستیو کلونو کې په دې سیمه کې خورا زیات تحولات تر سترګو شول، چې د سوریې اوږده کورنۍ او خونړۍ جګړه، په مصر کې د مرسي حکومت راپرځول، په عراق کې روان تاوتریخوالی او د فلسطین غمیزه یې د ځینې بېلګو په توګه یادولی شو.

دغو وروستیو بدلونونو او د عربي پسرلي تر نامه لاندې پاڅونونو، پر دغه سیمه ژور اغېز ښندلی او لاهم په دې سیمه کې د ژورو بدلونونو تمه شته ده. دلته همدا موضوع شنل شوې ده.

## په منځني ختیځ کې د رواني سړې جګړې شالید

په دې سیمه کې د ایران اسلامي انقلاب (۱۹۷۹) وروسته، د دوو سیمه ییزو ځواکونو (سعودی او ایران) ترمنځ د نړیوالې ایډیالوژیکې سړې جګړې پرمهال، آسیایي سیمه ییزه مذهبي جګړه هم ورو ورو پیل شوه. دې مذهبي سړې جګړې له پیله د نیابتي جګړې بڼه درلوده او د عراق-ایران د اوږدې جګړې (۱۹۸۰-۱۹۸۸) له امله یې سیمه په شیعه او سني بلاکونو ووېشله، چې اوسمهال په سوریه کې روانه کورنۍ جګړه او په عراق کې د سنیانو تازه پاڅون یې نوې بېلګې دي.

د ایران او سعودي ترمنځ د دې سړې جګړې له پیل سره عراق له ایران سره په خونړۍ جګړه کې ښکېل شو، چې وروسته سعودي د حسني مبارک تر واکمنۍ لاندې مصر او ایران بیا په لبنان کې د حزب الله او په سوریه کې د حافظ الاسد لوری ونیوه.

سعودي، چې د نړيوالې سړې جګړې پر مهال د امريکا ملاتړې و، د امريکا له تجربو زده کړل او هڅه يې وکړه، چې د ترومن دکترين[1] په څېر د ايران پرخلاف خپله ځانګړې نظريه هم راوړاندې کړي او په مرسته يې ايران په خپل ګاونډ کې راحصار او تابع کړي. سعودي عربستان په همدې موخه د خپل ستراتېژيک ملګري پاکستان او له هغه ځايه بيا د هغو افغاني مجاهدينو لوری ونيو، چې د تحريک برياليتوب يې هغه مهال د سعودي له مرستو سره تړلی و.

ځکه نو هغه مهال دغې سړې جګړې د افغانستان پر کورنۍ جګړه اغېز وکړ او وروسته بيا د افغانستان د سياست ډګر ته طالبان راڅرګند شول، چې له پيله يې د ايران مخالفت وکړ؛ خو بالعکس سعودي بيا له همدې امله طالبان په رسميت وپېژندل. په دې توګه د سړې جګړې دا لوبه افغانستان ته هم راولېږدول شوه او د افغانستان پر حالاتو يې ژور اغېز وکړ.

## سوريه او عراق له سړې جګړې تر ګرمې جګړې!

په منځني ختيځ کې چې کله له تونس څخه د عربي پسرلي پاڅونونه پيل شول؛ نو که له يوې خوا يې په سيمه کې د ملتونو د آزادۍ تمې راپيدا کړې؛ بلې خوا ته يې له ټولو استبدادي حکومتونو سره هم جدي اندېښنه پيدا کړه، چې په ترتيب سره يې په ليبيا کې قذافي له منځه يووړ او په مصر کې يې هم حسني مبارک له تخته راکوز کړ. همدغه مهال په سوريه کې هم، د سورېې ملت د بشارالاسد د ميراثي رژيم پر ضد پاڅون وکړ، چې له ۲۰۱۱ کال راهيسې روان دی او دواړه (سعودي او ايران) بشپړ پکې ښکېل دي.

ترڅنګ يې په عراق کې د امريکايي ځواکونو له وتلو وروسته حالات د پخوا په پرتله خورا ډېر خراب او کړکېچن شول، چې په دې وروستيو کې په عراق او سوريه کې د (اسلامي دولت) په نوم ډلې راڅرګندېدو او په اسلامي نړۍ کې د خلافت اعلانولو په دې سيمه ډېر هېوادونه اندېښمن کړي دي. د سني جنګياليو دا ډله اوسمهال په پوره ځواک سره، د نوري المالکي په مشرۍ د عراق د حکومت پر ضد، چې سني وګړي يې په تېرو کلونو کې د قدرت له صحنې ايستلي وو، جنګېږي او پر سعودي او قطر هېوادونو يې د ملاتړ تورونه لګول کېږي.

په داسې حال کې، چې په دې وروستيو کې په عراق کې د کردستان د خپلواکۍ موضوع هم راټوده شوې ده، له ايران سره د داعش (ISIS) يا (په عراق او شام کې د اسلامي دولت) ډلې په اړه اندېښنې زياتې شوې دي او داسې ګنګوسې شته دي، چې ايران عملاً د عراق له حکومت سره د مرستې له لارې هلته مداخله کړې؛ خو سعودي عربستان بيا مخکې له مخکې ايران ته خبرداری ورکړی، چې د عراق په چارو کې له لاسوهنې ډډه وکړي، کنه نو پايلې به يې د ايران لپاره خطرناکې وي.

---

[1] Truman Doctrine: هغه دکترين دی، چې په ۱۹۴۷ کال کې د امريکا د ۳۳ ولسمشر هری اس ترومن له خوا مطرح شو.

## د مصر کودتاچي مشر د ملک عبدالله نوی ملګری

د سعودي پاچا ملک عبدالله او  ملګرو يې (کويت او اماراتو) په مصر کې پر خپلو پخوانيو ملګرو او په اسلامي نړۍ کې د سعودي پر نرم ځواک (اسلامي تحريکونو) سخت ګوزار وکړ. د دغه هېواد د منتخب ولسمشر دکتور مرسي د واک ډېره کمه موده تېره شوې وه، چې د سيسي له خوا کودتا پرې وشوه او له اخوان المسلمين ګوند سره يې خورا ناوړه چلندونه وکړل.

په مصر کې له کودتا سملاسي وروسته ملک عبدالله په مصر کې د کودتا په پايله کې رامنځته شوی حکومت په رسميت وپېژاند او په دې ورروستيو کې يې، د حسني مبارک له واکمنی راوروسته د لومړي ځل لپاره مصر ته سفر هم وکړ. دا سفر په مصر کې له کودتا وروسته د بهرنيو مشرانو لومړنی سفر هم دی. په مقابل کې يې ډګروال سيسي هم د لوړې پر مهال له ملک عبدالله څخه ځانګړې مننه وکړه.

ملک عبدالله له سيسي سره د کودتا د پلان پر مهال د څو ميلیارده ډالرو مرستې د ژمنې ترڅنګ دا ژمنه هم کړې وه، چې د مصر د اقتصادي پرمختګ لپاره به د سيمې په کچه يو کنفرانس رابولي او مصر ته به تر ۲۰ ميلیارده ډالرو پورې د مرستو ژمنې ورکړل شي. په تېوليز ډول ويلی شو، چې د مصر د نوي حکومت او سعودي تر منځ له دغو تودو اړيکو، مرستو او ژمنو څرګندېږي، چې د دواړو هېوادونو لوری کوم دی.

په مصر کې له پراخ پاڅون سره د حسني مبارک د حکومت پر راپرځېدو ايران د ارامی ساه واخېسته او مرسي ته يې د ولسمشرۍ مبارکي ورکړه. که څه هم مرسي غوښتل، چې د تهران او رياض تر منځ توازن وساتي؛ خو سعودي بيا داسې ګڼله چې له انور سادات او حسني مبارک څخه ورپاتې مصر يې د دښمنو په لور ولاړ او له همدې امله يې د بېرته خپلولو هلې ځلې وکړې؛ خو لاهم په دغه هېواد کې د پرديو هېوادونو په اشاره رواني ناخوالې د دغه هېواد وګړي ځپي.

## د ترکيې او سعودي تر منځ په سني نړۍ کې د مشرتابه مقابله

په ترکيه کې د بهرنيو چارو د وزير په توګه د داوود اوغلو ټاکل کېدو، د ترکيې په معاصره ډيپلوماسۍ کې يو بدلون رامنځته کړ. ده يوازې څو کاله وړاندې، چې په پوهنتون کې د نړيوالو اړيکو پروفيسور و، د ستراتېژيک عمق په نوم کتاب وليکه. نوموړي په دغه کتاب د ترکيې د بهرنيو چارو پوهانو ته روښانه کړه، چې ترکيه بايد خپل ستراتېژيک عمق –چې ښاغلي اغلو د ترکيې جيو- ستراتېژيک موقعيت او له عثماني خلاف څخه ورپاتې تاريخي عمق بللی- ولټوي.

له ۲۰۰۴ کال وروسته د بهرنيو چارو د وزير په توګه د اغلو راتلل او هغه مهال د اروپايي اتحاديې له خوا د ترکيې پر مخ دروازې له نورو شرطونو سره تړل، دوی اړ کړل چې په خپله همدې فلسفه روان شي. د دغې فلسفې له مخې بيا د دغه هېواد لومړي وزير

رجب طیب اردوغان د سعودي پخوانيو ملګرو (اسلامي تحریکونو) ته داسې مهال د ملګرۍ لاس ور اوږد کړ، چې ملک عبدالله لاس ترې اخېستی و.

ترکیه په منځني ختیځ کې ډېموکراسي غواړي؛ خو د سعودي واکمنان بیا دا هر څه تر پښو لاندې تخت او د سر له پاسه تاج ته خطر ګڼي. ترکیه د عربي هېوادونو پسرلي ته هیله منه وه؛ خو سعودي بیا په یمن، بحرین او مصر کې په خپله ګټه لاسوهنې وکړې.

د سعودي او ترکیې ترمنځ د دې سړې جګړې ځواک، د سیسي له خوا د کودتا پرمهال په هغو خبرو کې، چې اردوغان د ملک عبدالله او سعودي په اړه د ترکیې ملت ته وکړې، ښه جوتېږي.

ACKU

## پایله:

دا چې په منځني ختیځ کې د ایران او سعودي سړه جګړه د شیعه او سني جګړه ده؛ نو سعودي نه غواړي، چې په منځني ختیځ کې د شیعه مذهب اغیزې او د ایران نرم ځواک زیات شي او ایران هم په ورته دریځ کې دی او په دې سیمه کې د سعودي پر ضد او د خپل نفوذ لپاره پوره هلې ځلې کوي.

بلخوا د سعودي او ترکیې ترمنځ هم په منځني ختیځ او اسلامي نړۍ کې، له خپل لیدلوري د مسلمانانو د "مشرتابه" لپاره مسابقه او سړه جګړه روانه کړې ده. سعودي په دې مقابله کې له دیني اړخه ګټه پورته کوي؛ خو ترکیه بیا د خپل زیاتېدونکي نرم ځواک، اقتصادي پرمختګ، او د اسلامي نړۍ د قدوې مشرانو پر مټ د مقابلې ډګر ګرم ساتلی.

همدارنګه په دې سیمه کې د ترکیې او ایران ترمنځ هم اړیکې ډېرې وختونه ښې نه وي او تر یوه بریده د دوی ترمنځ هم سوړ جنګ روان دی؛ خو په منځني ختیځ کې د وروستیو تحولاتو پر مټ، چې له عربي پسرلي یې سرچینه اخېستې ده، په دې سیمه کې د سړې جګړې ډګر تود ساتل شوی او دا لوبه ورځ تر بلې پېچلې کېږي. پای

---

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com – csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com

شمارهٔ تماس: 784089590 (+93)